پوهاند محمد بشیر دودیال
۲۰۲۳/۰۸/۰۲

# نو ی تعلیم، ریل پټلی ، څلورم صنعتی انقلاب او افغانستان




دا دی څلورم انقلاب یا(IR4/Revolution Fourth Industrial) له نورو انقلابونو سره په توپیر؛ د پوهي ، ذکاوت او نوښتونو له لارې رامنځته شو. یوویشتمه پیړی کي هیوادونه څلورم صنعتي انقلاب ته چمتو شول. د۲۰۲۲م. کال د اګست پر اوولسمه په دی اړه داسي وویل شول:

Industry 4.0/ Fourth Industrial Revolution or 4IR—is the next phase in the digitization of the manufacturing sector, driven by disruptive trends including the rise of data and connectivity, analytics, human-machine interaction, and improvements in robotics.

د دي ښکارندي دپیژندني لپاره به لومړی به د تیرو دریو صنعتي انقلابونو یوه لنډه یادونه وکړو:
لومړی صنعتي انقلاب د اتلسمي پیړی په اخره ربع کي په برتانیه کي رامنځته شو. د بخار دماشین ایجاد، فابریکو او تولیدوونکو ته دا زمینه برابره کړه چي د تولیدي پروسي جوړښت ته تغییر ورکړي او په لږ وخت کي زیات اجناس تولید کړي. دویم صنعتي انقلاب په نولسمي پیړی کي پیل او له لومړی نړیوالي جګړي سره پای ته ورسیږ. په دویم صنعتي انقلاب کي د برق ایجاد، د ټرانسپورټ پرمختګ، د فولادو تولید او ځیني نورو پرمختګونو فابریکو ته زمینه برابره کړه چي اجناس په کم وخت، لږ مصرف او زیات مقدار سره تولید کړي. دریم صنعتي انقلاب له ۱۹۶۰م.

کال وروسته پیل شو. د انټرنیټ منځته راتګ، د لیپټاپ کمپیوټرونو اختراع ، او د بېلابېلو ماشیني وسایلو ایجاد مرسته وکړه چې کټلوي تولید ته زمینه برابره ، د تولید پروسه اتومات او د اموالو په انتقال، تولید، کیفیت، مصرف او نورو برخو کې ښه والی راشي. اوسنی4IR له تیرو دریو انقلابونو سره توپیر لري. په دې کې اتومات ماشینونه او روباټونه رول لری. د ژوند د دې پړاو ځانګړنه دا ده:

The Fourth Industrial Revolution, 4IR, or Industry 4.0 conceptualizes rapid change to technology, industries, and societal patterns and processes in the 21st century due to increasing interconnectivity and smart automation.

دا انقلاب به د خلکو د ژوند ، کار کولو او یو له بل سره د ارتباط په طریقه کښې تغییر راولي. که روباټ له انسانانو سره په ورځنیو کارونو کې مرسته کوي، که الوتکه بې پیلوټه چلیږي، که مختلف ډول نوي جراحي عملیات کیږي، که سایبري حملې کیږي، که درې اړخیزه پرنټ D print3 کیږي، که ډیرګڼدی ریلګاډی جوړیږي، که په انلاین ډول سوداګري او د اموالو راکړه - ورکړه کیږي؛ دا ټول د څلورم صنعتي انقلاب بیلګې دي. اوسمهال دې ته ضرورت نشته چې مارکیټ کې په سودا اخیستلو پسې وګرځو، په انلاین ډول کولای شو اجناس واخلو او حتی خرڅ یې کړو. د مختلفو ناروغیو علاج کیږي کوم چې پخوا یې امکان نه و . روباټ درسره د کور او دفتر په کارونو کې مرسته کوي. د معلوماتي ټیکنالوژی پرمختګ دا اسانه کړې چې د میلیاردونو انسانانو په هکله راټول شوي معلومات صرف په یو څو ماشینونو کې د ډاټا په شکل ذخیره شي. د ګړندي ټرین په وسیله د زرګونه کیلومتره فاصله څو ساعتونو ته رالنډولای شو. دې ته ورته ټولو نوښتونو او پرمختګونو سره به څلورم صنعتي انقلاب د خلکو د ژوند معیار لوړ کړي ، د ارتباط او ټرانسپورټ مصارف به راکم کړي، همداراز موثره د عرضې ځنځیرSupply Chain او تولیدات به رامنځته کړي. البته دا یو شمیر کم مهارته کسانو ته د وظیفو بایللو یا job loss خطر هم لري. د ژوند دې پړاو کې د اجناسو لیږد په ماشینی وسایلو زیاتیږي . دا ډول تغیرات د غیرمسلکي او بې تعلیمه کاریګرو وظیفي له خطر سره مخامخ کوي. همدا راز کوچنیو او لږه سرمایه لرونکو تولیدي کمپنیو ته رقابت سختوي. دولتونه اوس مهال پردې فکر کوي چې څنګه څلورم صنعتي انقلاب ته چمتو شی. د جمهوریت دوره کې دا طرح موجوده وه او فکر ورباندې کېد.

د بریکس BRICS هیوادونو د لسمي کلنۍ غونډې یوه مهمه موضوع څلورم صنعتي انقلاب وو.د هند لومړي وزیر نریندرا مودي غونډې ته وینا کې یادونه وکړه چې: ...( موږ باید د ښوونځیو او پوهنتونونو په کریکولم کې تغیرات رامنځته کړو تر څو د څلورم صنعتي انقلاب لپاره اماده شو...).

همداراز د څلورم صنعتي انقلاب په هکله مختلف نورعلمي کنفرانسونه هم دایر شوي چې د دغه انقلاب پر تاثیراتو بحث وکړي. دا چې څنګهIR4 ته اماده کیدلای شو، دولتونو ته په کار ده تر څو تعلیم ته د خلکو لاسرسی زیات کړي ، خلک او کمپنی د ټیکنالوژیکي نوښتونو او پرمختګونو څخه خبر کړي، زیربنا جوړه کړي، روزنیز پروګرامونه زیات کړي ، نوښتونه او ابتکارات تشویق کړي. له دې لارې دولتونه نه یوازې د څلورم صنعتي انقلاب له پاره امادګی نیولی شي بلکې د خلکو د وظیفو د لاسه ورکولو خطر به راکم کړي، تولیدي او خدماتي کمپنی به د رقابت جوګه کړي او اقتصادي وده به نوره هم چټکه کړي. دا مسئله افغان ځوانانو ته ډیره مهمه ده. دې سره یو ځای ریل پټلی او ټرن راته مهم ضرورت دی. دا په داسي حال کې چې افغانستان باید په سنجول شوي شکل د منځنۍ اسیا او جنوبی آسیا ترمنځ د اتصال حلقه شی. شاوخوا ګاونډی مو دې خبرې ته پوره ځیر دی، خو موږ ډیر غافل او ناتوان یاستو.

وروسته تر ۲۰۱۰م. کال څخه ګام په ګام افغانستان د وچې د پنځو بندرونو لرونکی شو، او غلام خان هم ورسره شیرم. د ریل ګاډي اداره منسجمه او کارکوونکي ورته وګومارل شول او څو ځله د ترینینګ لپاره بهر ته هم ولیږل شول. له دې سره یو ځای کاسازر او چاه بهار یو فوق العاده زیری و، چې متاسفانه دواړه په ټپه ودریدل. کاسازر کې نوی تکنالوژی او نوری فایبر مرکزی ټکی وو، چې په طرح شوی شکل افغانستان په مستقل ډول ورڅخه برخمن کېد، له بده مرغه اوس موږ خپلواک نه، بلکي ترلي یاستو. د چا بهار بندر هم موږ ډیر خپلواک کولو، کوم چې اوس قصداً هېر یا بی اهمیته کړل شو. چاه بهار خصوصاً د درې هیوادو: افغانستان، ایران او هند لپاره ګټورو. د دی د جوړولو قرارداد کی هندوستان افغانستان ته ترجیحات منلی وو. له دې بندر څخه به تر نیمروز( دل ارام) او بیا د شمال لوری ته دری نورو بندرونو سره د وصل په خاطر له ۱۳۰ څخه تر ۲۰۰ کیلومتره ریل پټلی جوړیده، دا به د ګړندی لیږد یو مثال و، چې زموږ لپاره د څلورم صنعتی انقلاب ښېګڼو کی د برخمن کیدو چانس و، خو راتلونکی یې پوښتنې سره مخ شوه. موږ توانیدلو چې خیله وچه او تازه میوه، صنعتی او طبی بوټې هندوستان ته واستوو او له هغی خوا غله، درمل، صنعتی او خوراکی نور اقلام وارد او د ګوادر او کراچی بندر پورې د تړلتیا او ترخو تجربو څخه خلاص شو. د چابهار بندر لومړی پړاو چی استفادي کولو امکان یې برابر کړ په ۲۰۰۹م: کال کی بشپړشو او افغانستان د عرب سمندرګی سره وصل شو. که د هیواد دننه دغی ریل پټلی دوام موندلای وای، مرکزی آسیا جنوبی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

اسیا سره د وصل یوه ګړندۍ لار موندله چی د IR4 یو مزیت و. متاسفانه دا هیلي تتي شوې، خدای دې ځوانانو ته همت ورکړی چې راتلونکی کی تحقق ورکړي.
اندېښنه داده چې څو ورځې مخکی پاکستان سره د جنوب ولایتونو څخه مرکزی اسیا ته د تیریدونکی پټلی یو (قرارداد) وشو، دا نده معلومه چی د دې خبرې ډېر نور ضروری جزئیات او ممکنه ستونزی لکه د دغې پټلۍ مسیر کی دیو شمیر ملکیتونو استملاک، د حساس فرهنګی میراث د شتون امکان، چاپېریالی ککړتیا او عوارض، محلی کارګر استخدام، مبدا بندر او مقصد بندر، ترانزیت او د افغانستان د محصولاتو دباربندی امکان، اصلی او فرعی ستیشنونه، له نورو بندرونو سره وصل او ډیر نور مسایلو ته څومره فکر شوی او دحل لاری یی څنګه موندل کیږی. فعلی وضعیت کې په ملی کچه پریکړی او د ډیرې اوږدې مودې پروژې ژور تحلیل غواړي. یو شمیر هیوادونه دا ډول پروژې د نړیوال بانک او معتبرو مشاورینو په مرسته تحلیل کوي. موږ باید د IR4 فوق العاده مهم فرصت ته په کتني دا اړتیا د خپلې اوږدې مودې ګټو پر بنسټ وڅیړو. آیا داسې څوک شته چی دا مسایل وڅیړلای شي؟ دا په داسې حال کې چې د IR4 په پړاو کې د معلوماتو او ډیټا تحلیل او په پرمختللی تکنالوژي تسلط یو اساسی شرط دی، هغه چې موږ یې خپله وکاروو، نه دا چی د نورو په لاس کې وي. د مودی د وینا هغه پورته یوه کرښه یې لا سرباری !


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ